مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ولي ناروغ ۲۰۲۵/۱۱/۰۷

# تورې شـپې دي ښنگ په ښنگ سره گنـډلې

## غزل

زړه مې تنگ دی، زړه مې تنگ دی، زړه مې تنگ
د تـــورخـــم د غره ډبــره مـــې تر ښنگ

هره ورځ د ننـــگ تنـــدی پرې داغــومه
خـــزره واوره دا تـــور داغ دئ د پرنــگ

یا ښـــکاري په ښـــه ویشتئ نام و ننگ دی
یا تـور لمـــــر دی راختـــلی په سالنـــگ

تورې شـپې دي ښنگ په ښنگ سره گنـډلې
یا د ورځـــــې لــــه رخســـاره تللی رنگ

یا ماښـــــام د فلسطیـــن شـو بــې سهـــاره
یا کعبـــه کې سپین طـواف وهـلی زنگ

له کـابلـه تــر بغداده مـــې زړه شیـن شــو
لکـه گــل د کــربـــال پـــه وینـــو رنـگ

یا عیســـی دئ له موسی ســـره راغلـــی
یا د خــــدای سپینـــه لمنـــه شـوه په رنــگ

ناروغ ولی


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په خیر و لولئ